لیکنه: کاندید اکاډمیسین محمد اعظم سیستانی
ژباړه: نجیب پاڅون
۲۰۲۶/۰۲/۰۴

# د شرارت کوونکو سکتاریستانو په خوب کې

کله چې د افغانستان واکمنان ډیورنډ کرښه تر پوښتنې لاندې راولي او د پښتونستان ملي داعیه مطرح کوي، نو د پاکستان له حکومته مخکې، قومي سکتاریستان تر ټولو سخت غبرګون ښيي او د ډیورنډ کرښې د له منځه وړل کېدو مخالفت کوي.

تازه د همدې سکتاریستانو له ډلې یوه یې د مالیې پخواني وزیر ښاغلي احدي سره په مرکه کې دا ادعا مطرح کړه، چې ګواکې امیر عبدالرحمن خان د ډیورنډ په تړون کې یوازې د قبایلي سیمو خاوره انګرېزانو ته نه ده سپارلې، بلکې د امو سیند شمال ته پرتې ځمکې، یعنې د اوسني تاجکستان او د ترکمنستان پنجده سیمه یې هم روسیې ته ورکړې دي.

دلته دا پوښتنه پیدا کېږي، چې که د افغانستان واکمنان ډیورنډ کرښه نه مني او د هغې غاړې د سیمو د یوځای کېدو خبره کوي، نو ولې دوی د شمالي پولې، یعنې د مرکزي اسیا له هېوادونو سره د روشان (تاجکستان) او پنجده (ترکمنستان) د بېرته یوځای کېدو غوښتنه نه مطرح کوي؟

**د پاکستان پلوه سکتاریستانو په خوب کې باید وویل شي:**

۱ – تاریخي، کلتوري او عاطفي ګډ عناصر شته، چې د ډیورنډ کرښې هغې غاړې پښتانه د افغانستان له ولس، په ځانګړې ډول له پښتنو سره نښلوي. دا ډول ګډ احساسات د امو سیند هغې غاړې خلکو کې په تېره د شمالي افغانستان له تاجک او ترکمن قومونو سره نشته.

۲ ـ د پښتونستان ازادۍغوښتونکي ځوانان هره ورځ او هره اونۍ د افغانستان درې رنګه بیرغ پورته کوي او د «لر او بر یو افغان» شعار ورکوي، چې یا وژل کېږي او یا زندانونو ته اچول کېږي. خو د امو سیند شمال ته داسې کوم حرکت نه شته او نه پخوا و.

۳ـ ګیلهمن وزیر، چې یو انقلابي شاعر او پښتون مبارز و یو له همدې ازادۍغوښتونکو ځوانانو څخه و. د افغانستان نوم ورته تر ټولو سپېڅلې کلمه وه. هغه د افغان او افغانستان د مینې له امله درې ځله زنداني شو او سختې شکنجې ورکړل شوې، تر څو د پاکستان د توتالیتر رژیم پر ضد له شعر ویلو لاس واخلي؛ خو ان د شکنجې تر سیورې لاندې یې هم د افغانستان نوم پر لوړ غږ یادوه.

هغه په ۲۷ کلنۍ کې، د ۲۰۲۴ کال د جولای په ۱۲مه، د پاکستاني استخباراتي اجنټانو له لوري ووژل شو (انا لله و انا الیه راجعون).

د هغه د جنازې په ورځ، په وزیرستان کې لږ تر لږه دوه میلیونه پښتنو ګډون وکړ. د ګیلهمن وزیر مرګ، لږ تر لږه پنځوس میلیونه پښتانه، د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې، په ویر کې کېنول.

حال دا چې د امو سیند شمال ته د همژبو قومونو لپاره هیڅوک نه بندي شوي او نه وژل شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۴ ـ د ډیورنډ کرښې سویل ته مېشت پښتانه، د برتانوي هند له واکمنۍ راهیسې، داسې یوه ورځ هم نه لري چې د انګرېزانو او وروسته د پاکستان د حکومت پر ضد یې پاڅون نه وي کړی او د پنجاب د واکمنانو پر وړاندې یې خپله کرکه او انزجار نه وي څرګند کړی.
خو د شوروي اتحاد د واکمنۍ پر مهال، د امو سیند شمال ته داسې کوم ولسي مقاومت نه دی لیدل شوی.

۵ ـ هغه مهم ټکی چې د افغانستان واکمنان د ډیورنډ کرښې د لغوه کولو او د له منځه وړو لپاره اړ باسي هغه دا دی چې دا کرښه په بېرحمانه ډول د داسې ولس پر زړه تېره شوې، چې ګډ کلي، ګډې کروندې، ګډې ویالې او کاریزونه، ګډ جوماتونه، ګډې هدېرې او ګډ کلتور لري.

حال دا چې د امو سیند پوله یوه طبیعي پوله ده، چې شاوخوا ۱۱۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري او د هغې په ټاکلو کې هېڅ قوم په دوه برخو نه دی وېشل شوی.

۶ ـ د ډیورنډ کرښې د دواړو غاړو پښتنو کې د پښتونولۍ، ازادۍغوښتنې او د بهرني واک او ځواک پر ضد د مبارزې روحیه، که د روښاني غورځنګ له دورې ورتېر شو، د خوشحال خان خټک له وخته تر ننه پورې نږدې څلور سوه کلنه مخینه لري، او د پاکستان د واکمنۍ پر ضد دا مبارزه هم په تېرو ۷۸ کلونو کې هېڅکله نه ده درېدلې.

د خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان او فقیر ایپي (میرزا علي خان) په څېر مشرانو د پښتونستان د ازادۍ لپاره کلونه کلونه زندانونه ګاللي او خپل ژوند یې قربان کړی دی.

د دوی په لاره کې سلګونه نور ځوانان لکه عثمان کاکړ، طاهر داوړ، ارمان لوڼی، عارف افغان، ګیلهمن وزیر، مفتي منیر شاکر او نور د پاکستان د استخباراتي ادارې (ISI) له لوري وژل شوي دي.

۷ ـ د ډیورنډ کرښې هغې غاړې پښتنو د لوېدیځو او ختیځو یرغلګرو پر ضد جګړو کې د افغانستان له ولس سره اوږه په اوږه جګړه کړې او قربانۍ یې ورکړې دي، حال دا چې د امو سیند شمال ته خلک یوازې نندارچیان پاتې شوي او هېڅ عملي مرسته یې نه ده کړې.

۸ ـ د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کې د ډیورنډ هغې غاړې پښتنو فعاله ونډه اخیستې او زرګونه ځوانان یې قرباني کړي دي، خو د امو سیند شمال ته ان یو کس هم پکې ګډون نه دی کړی.
۹ -د سقاوي اغتشاش( اړ دوړ) پر مهال، د ډیورنډ کرښې هغې غاړې پښتنو د افغانستان د ژغورنې لپاره مهم رول لوبولی او د پکتیا د لښکر سره یوځای یې د خپلو سرونو په قربانۍ کابل ته لاره هواره کړه او ارګ یې له بچه سقاو (حبیبالله کلکاني) پاک کړ.
«د جنرال یارمحمد وزیري » د افغانستان د نجات تاریخ» وګورئ»

۱۰ -د شوروي یرغل پر مهال، د ډیورنډ هغې غاړې پښتنو پنځه میلیونه افغان کډوال په پېښور او کوټه کې مېشت کړل او د شوروي ځواکونو پر ضد یې جګړه وکړه، حال دا چې د امو سیند شمال ته خلک یواځې د سندرو په اورېدو او نڅا بوخت وو.
۱۱ -د امریکا او متحدینو د یرغل پر مهال هم، د ډیورنډ هغې غاړې پښتنو د افغان کډوالو کوربتوب وکړ او د اشغال پر ضد یې مبارزه وکړه. د منظور احمد پښتین په وینا، یوازې په وزیرستان کې له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۸ پورې ۴۰ زره کسان وژل شوي، ۳۲ زره نادرکه شوي، ۱۴۰۰ ښځې وژل شوې او ۱۷۰ زره کورونه ویجاړ شوي دي.

حال دا چې د همدې مودې پر مهال، د تاجکستان ولس هېڅ عملي مقاومت نه دی کړی او یواځې یې د شبنم ثریا سندرې اورېدلې.

۱۲ـ د منظور احمد پښتون په مشرۍ د پښتون ژغورنې غورځنګ، د پښتنو د ملي بیدارۍ او یووالي زیری ورکوي.
د دې غورځنګ مشرۍ ته د منظور پښتون رسېدل، د پښتني ولس د نسلوژنې د مخنیوي لپاره د یوه ژغورونکي د راڅرګندېدو نښه ګڼل کېږي. دغه ویښ ځوان پښتون د پاکستان د پوځي استخباراتو بدنامه اداره د پښتنو پر نسلوژنه تورنوي.

یوه اردو پرې تورنول چې د څلوېښت میلیونه پښتنو نسلوژنه کوي دا اسانه کار نه دی که څوک غواړي داسې غږ پورته کړي؛ نو باید لومړی خپل سر په لاس کې ونیسي او بیا د مبارزې ډګر ته ورننوځي، منظور پښتون همداسې یو زړور کس دی.

بې له شکه، د پښتنو د ژغورنې غورځنګ پښتنو کې ژور او ملي یووالی رامنځته کړی دی او د پاکستان پوځي استخباراتي اداره یې دې ته اړ ایستلې، چې د هغو پښتنو ځوانانو شتون وزغمي، چې سره خولۍ پر سر کوي؛ هغه سره خولۍ چې د پښتنو د ژغورنې غورځنګ نښه بلل کېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه پښتون چې د دې غورځنګ تر جوړېدو مخکې يې د پوليسو او امنيتي ځواکونو د سپکاوي او تحقير پر وړاندې د «ولې» ويلو جرأت نه درلود، نن په غونډو او لاريونونو کې د افغانستان ملي بيرغ پورته کوي، د «لر او بر يو افغان» شعارونه ورکوي او په لوړ غږ د خپل افغان هويت يادونه کوي. دوی د ډيورنډ کرښې پر ځای د اټک پوله يادوي

. https://www.facebook.com/reel/895572729718591

د پښتون ژغورني غورځنګ تر راڅرګندېدو مخکې، که چا دا ډول شعار ورکاوه، ژوند به يې له سخت ګواښ سره مخ کېده؛ خو نن، د همدې غورځنګ له برکته، د ډيورنډ د تحميلي کرښې هغې غاړې پښتانه د افغانستان نقشه او د ملي بيرغ نښه پر خپلو کميسونو ګنډي، په بازارونو کې ښکاره ګرځي او نه وژل کېږي.

تر دې غورځنګ مخکې، هېچا جرأت نه درلود چې د پښتنو په مظاهرو او اعتصابونو کې د افغانستان ملي بيرغ له ځان سره يوسي؛ خو اوس، لکه څنګه چې ليدل کېږي، د پښتنو د ژغورني غورځنګ په ګڼو غونډو او لاريونونو کې د افغانستان ملي بيرغ د ګډونوالو ترمنځ رپېږي، چې دا له افغانستان سره د تاريخي او ملي تړون څرګنده نښه ده.

افغانستان بايد د ډيورنډ کرښې هغې غاړې د پښتنو له ملي غورځنګ ملاتړ وکړي او له هېڅ ډول سياسي، اخلاقي او معنوي مرستې ډډه ونه کړي.

هيله ده، دا عيني، تاريخي او کلتوري دلايل د هغو سکتاريستانو خولې وتړي، چې بېځايه خبرې کوي او په افغان ولس کې د شرارت او تفرقې خپرولو هڅې کوي؛ هغه هڅې چې له بده مرغه د تېرو څلورو لسيزو جګړو کې ور سره زموږ ملي يووالی سخت زيانمن شوی دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ